جمعية خدمة المحتوى الإسلامي باللغات
جمعية الدعوة وتوعية الجاليات بالربوة
IslamHouse.com

أنا مسلم - بشتو

# زه مسلمان یم

## أَنَا مُسْلِمٌ

د دکتور محمد بن ابراهیم په قلم

ح جمعية خدمة المحتوى الإسلامي باللغات ، ١٤٤٥ هـ

الحمد ، محمد ابراهيم

أنا مسلم - بشتو. / محمد ابراهيم الحمد ؛ جمعية خدمة المحتوى الإسلامي باللغات - ط.١ -. الرياض ، ١٤٤٥هـ

١٤ ص ؛ ١٤ × ٢١ سم

ردمك: ٩٧٨-٦٠٣-٨٤١٢-٣٧-٤

١٤٤٥ / ٨٥٧١

شركاء التنفيذ:

دار الإسلام جمعية الربوة رواد الترجمة المحتوى الإسلامي

يتاح طباعة هذا الإصدار ونشره بأي وسيلة مع الالتزام بالإشارة إلى المصدر وعدم التغيير في النص.

Tel: +966 50 244 7000
info@islamiccontent.org
Riyadh 13245-2836
www.islamhouse.com

# زه مسلمان يم

د دکتور محمد بن ابراهيم په قلم

## زه مسلمان يم او د دې معنی دا ده چې زما دين اسلام دی.

اسلام يوه ستره او سپېڅلې کلمه ده چې له لومړي څخه تر آخره پورې پيغمبرانو خپل مينځ کې يو بل ته په ميراث پرېښې ده. او دا کلمه لوړې معناوې او لوی ارزښتونه د ځان سره لري. دا د خالق په وړاندې د غاړه ايښودلو، خبره منلو او تابعداري کولو معنی لري. دا د فرد او ټولې لپاره د سولې، آرامۍ، خوښۍ، امنيت او هوساينې معنی لري. له همدې امله د سلام او اسلام کلمې په اسلامي شريعت کې تر ټولو زيات کارول شوي دي. نو سلام د الله – تعالی – له نومونو څخه يو نوم دی، او د مسلمانانو تر منځه ښه راغلاست په سلام سره کيږي، او د جنتيانو تر منځ سلام هم په همدې کملې سره کيږي. او رښتينی مسلمان هغه دی چې د ژبې او د لاس د ضرر څخه يې مسلمانان په امن وي. اسلام د ټولو انسانانو لپاره د خير دين دی، هغه د دوی لپاره پراخه دی او په دنيا او آخرت کې يې د نيکمرغۍ لار ده. لدې امله اسلام په داسې يوې بڼې سره راغی چې ورروستی، شامل، پراخه او روښانه دين دی، دروازې يې د هر چا پر مخ خلاصې دي، د خيلونو او رنګونو تر مينځ توپير نه کوي، بلکې – ټولو – خلکو ته په يو نظر ګوري. په اسلام کې هيچاته ځانګړتيا نشته، مګر لدې دين څخه د

هغه د زده کړو په اندازه . لدې امله یې ټول برابر نفسونه مني، ځکه چې د فطرت موافق دی. هر انسان په فطري توګه د دې باور سره پیدا کیږي چې : خیر، عدالت، ازادي، او رب خوښوي، په عبادت یې اقرار کوي چې یوازې همغه له هر چا پرته د عبادت مستحق دی. او لدې فطرت څخه هیڅوک نه اوړي مګر د یو اوړیدونکي په وجه چې ورته یې بدل کړي (فطرت). او دا دین خلکو ته د خلکو خالق، مالک، او معبود خوښ کړی دی.

او زما د اسلام دین ماته راښایي چې زه به په دې دنیا کې ژوند کوم، او له مرګ نه وروسته به یوې بلې نړۍ ته انتقالیږم، چې هغه تلپاتې کور دی، په کوم کې به چې د خلکو تګ جنت او یا اور ته وي.

او زما د اسلام دین ماته په ځینو چارو امر کوي او له ځینو نورو مې منع کوي؛ نو کله مې چې اوامر پر ځای کړل، او له منهیاتو څخه مې ځان وساته نو په دنیا او اخرت کې به نیمکرغه یم، او که غفلت مې وکړ نو په دنیا او آخرت کې به د غفلت او تقصیر په اندازه بدبخته شم. او تر ټولو لوی کار چې اسلام پرې ماته امر کړی دی هغه د الله توحید دی؛ نو زه ګواهي ورکوم، او کلکه عقیده ساتم چې الله زما خالق او معبود دی. نو عبادت نه کوم مګر د یو الله؛ هغه سره د محبت

له امله، او د هغه له جزا څخه د ویرې له امله، او  د هغه د ثواب په تمه، او پر هغه د توکل له مخې. او دا توحید د الله تعالی په یووالي او د هغه د پیغمبر محمد صلی الله علیه وسلم په پیغمبرۍ باندې په ګواهۍ ورکولو کې رانغښتل شوی. نو محمد - صلی الله علیه وسلم - د پیغمبرانو وروستی دی؛ الله د مخلوقاتو لپاره رحمت رالیږلی، او د نبوت او رسالت لړۍ یې پرې پای ته رسولې ده، نو له هغه وروسته بل نبي نشته، هغه د یو عام دین سره راغلی چې د هر وخت، ځای او امت لپاره مناسب دی.

او زما دین ماته په کلکه پر ملایکو او ټولو رسولانو په ایمان راوړلو امر کوي، چې په سر کې نوح، ابراهیم، موسی، عیسی او محمد (علیهم السلام) دی.

او ماته امر کوي په هغو آسماني کتابونو ایمان راوړم چې پر پیغمبرانو نازل شوي، او د هغوی له وروستي او پای ته رسوونکي څخه پیروي وکړم، چې تر ټولو لوی یې قرآن کریم دی.

زما دین ماته امر کوي چې د آخرت په ورځ ایمان راوړم، په کوم چې خلکو ته د دوی د عملونو بدله ورکول کیږي. او ماته په تقدیر په ایمان راوړلو امر کوي، او په هغه څه په خوښۍ څرګندولو چې له خیر

او شر څخه پدې دنیا کې رارسیږي، او دا چې د خلاصون لپاره له اسبابو څخه ګټه واخلم. په تقدیر ایمان ماته راحت، ډاډ، صبر او د هغه څه په اړه افسوس پرېښودل رابخښي چې تیر شوي دي؛ ځکه زه په یقین سره پوهیږم چې هغه څه چې ماته رارسیږي زه ترې بچ کیدلی نه شم، او هغه څه چې راته رارسیدونکي نه وي هیڅکله به راونه رسیږي. هر څه د الله له خوا ټاکل شوي او لیکل شوي دي او ماته یوازې اسباب اخیستل او په هغه څه د خوښۍ څرګندول په کار دي چې له هغه وروسته وي.

او اسلام ماته په هغه نیکو کارونو امر کوي چې زما روح پاکیزه کوي او په هغه سترو اخلاقو چې زما رب راڅخه راضي کوي، نفس مې پاکوي، زړه مې خوشحالوي، سینه مې پراخوي، لاره راته روښانه کوي او په ټولنه کې مې یو ګټور غړی ګرځوي.

او د هغو عملونو تر ټولو لوی یې: د الله یووالی، په شپه او ورځ کې پنځه وخته لمونځونه کول، د مالونو زکات ورکول، په کال کې د یوې میاشتې روژه نیول چې د رمضان میاشت ده، او په مکه کې د بیت الله شریف زیارت کول د هغه چا لپاره چې د حج توان ولري.

زما دين تر ټولو ستر هغه څه چې ماته يې لارښوونه کړې ده، چې سينه روښانه کوي، د قرانکريم ډير لوستل دي ځکه چې د الله کلام او تر ټولو رښتينې وينا ده، تر ټولو ښايسته، تر ټولو ستره او په زړه پورې وينا ده چې لومړيو او وروستيو علومو ته شامله ده. په لوستلو او اورېدلو يې زړه ته سکون، راحت او خوښي ننوځي، که څه هم لوستونکی يا اورېدونکی يې په عربي ژبه نه پوهېږي او يا مسلمان نه وي. او يو له سترو شيانو څخه چې سينه پراخوي له الله – تعالى – څخه ډيرې دعاګانې غوښتل، هغه ته پناه وړل او په هره وړه او غټه کې له هغه څخه سوال کول دي. الله د هغه چا دعا قبلوي چې څوک ترې دعا وغواړي او په اخلاص سره يې عبادت وکړي.

او تر ټولو ستر هغه څه چې سينه پراخوي د الله تعالى زيات يادول دي، زما پيغمبر – صلى الله عليه وسلم – ما ته لارښوونه کړې چې څنګه الله ياد کړم، او ما ته يې غوره هغه څه راښودلي چې الله پرې يادېږي. له هغو څخه: څلور خبرې دي چې له قرآن څخه وروسته تر ټولو غوره وينا ده، هغه دا دي: (سبحان الله، الحمد لله او لا إله إلا الله، او الله أكبر).

او همدا رنګه (أستغفر الله، ولا حول ولا قوة إلا بالله).

دا خبرې په سينه پراخولو او زړه ته سکون ورکولو کې حيرانوونکې تاثير لري.(۱)

او اسلام ماته امر کوي چې خپل عزت لوړ وساتم، له هغه څه نه چې زما انسانيت او وقار ته زيان رسوي لرې پاتې شم. او دا چې خپل عقل او اندامونه د هغه څه لپاره وکاروم د څه لپاره چې پيدا شوي دي له ديني او دنيوي ګټورو کارونو څخه.

او اسلام ماته په مهربانۍ، ښو اخلاقو، ښه چلند، او د خلکو سره په قول او عمل کې د نيکۍ کولو امر کوي، څومره يې چې زه کولی شم.

په مخلوقاتو کې تر ټولو لوی حق چې ماته پرې حکم شوی، د مور او پلار حق دی. زما دين ماته امر کوي چې له دوی سره مهربانه اوسم، دواړو ته ښېګڼه وغواړم، د خوښۍ لپاره يې هلې ځلې وکړم او ګټه وررورسوم، په ځانګړې توګه کله چې هغوی زاړه شي. له همدې امله په اسلامي ټولنو کې ته ګورې چې اولادونه مور او پلار ته د عزت په سترګه ګوري، او احترام او خدمت يې کوي. او هر څومره چې د مور او پلار عمرونه زياتيږي، يا په ناروغۍ اخته کيږي او يا ناتوانه کيږي په همغومره کچه پرې د اولادونه مهرباني زياتيږي. او زما دين ماته را زده کړي چې ښځه لوړ وقار او ستر حقونه لري. ځکه په اسلام کې

ښځې د سړو  جوړه ده، او په خلکو کې غوره انسان هغه څوک دی چې د خپلې کورنۍ لپاره غوره وي. مسلمانه زنانه په ماشومتوب کې د رضاعت، پالنې او ښې روزنې حق لري او – د ماشومتوب – پر مهال د سترګو یخوالی او د مور پلار او وروڼو لپاره د زړه میوه وي. او کله چې لویه شي، هغه باعزته او محترمه وي، سرپرست یې پرې غیرت کوي، او په خپله سرپرستۍ کې یې ساتي، خوښ نه ګڼي چې بد لاسونه ور اوږده شي، یا په ژبې سره زیان وروړسیږي، او یا په سترګو ورسره خیانت وشي. او که چېرته واده کوي، نو هغه به د الله په کلمې او ټینګې ژمنې سره وي. نو هغه به د خاوند په کور کې عزتمنده اوسي، او په خاوند یې عزت کول، ورسره نیکي کول، او ورڅخه د ضرر دفع کول واجب دي،

او که چیرته مور وي، د هغې سره نیکي کول د الله – تعالی – د حق سره یو ځای ذکر شوي، او نافرماني او ورسره ناوړه سلوک کول د شرک او په ځمکه کې له فساد سره یو ځای یاد شوي دي،

او کله چې خور وي، نو بیا هغه څوک ده چې مسلمان ته ورسره په خپلوۍ پالنې، او پرې غیرت کولو امر شوی. او که چیرته خاله وه، نو په نیکۍ او خپلوۍ کې د مور پر ځای ده.

او که هغه نیا وي، یا د ډیر عمر وي نو د اولادونو، لمسیانو او ټولو خپلوانو سره یې ارزښت نور هم لوړیږي؛ غوښتنه یې نه ردیږي، او نه یې نظر ته په سپکه لیدل کیږي.

او که له چا څخه لرې وي چې نه یې خپله وي او نه ګاونډۍ بیا هم عام اسلامي حق لري چې هغه ورڅخه د ضرر دفع کول، د سترګو ساتل او داسې نور حقونه دي.

او مسلمانې ټولنې لا هم دغو حقونو ته د پاملرنې له حق سره درناوی لري، او په ریښتیا سره یې مراعتوي، کومو چې ښځو ته ارزښت او اعتبار ورکړی، پداسې حال کې چې په نامسلمانو ټولنو کې - ورته دا حقونه - نشته،

بیا دا چې ښځه په اسلام کې د ملکیت، اجارې، پلور، پیر، او ټولو ترونونو حق لري، همدارنګه د زده کړې، ښوونې، کار او هر هغه څه حق لري چې د دین مخالف یې نه وي. بلکې له علم څخه ځینې هغه دی چې زده کړه یې فرض عین ده، چې پرېښودونکی یې ګناهکاریږي؛ هغه نر وي او که ښځه.

بلکه د هغې لپاره هر هغه څه دي کوم چې د سړیو لپاره دي مګر هغه څه چې خاص وي له دوی پورې پرته له سړیو او یا ځانګړې وې

سړیو پورې پرته له دوی له هغو حقونو او حکمونو څخه چې د هر یو د حال سره مناسب وي چې هر یو یې په خپل ځای کې په تفصیل سره ذکر شوی دی.

او زما دین ماته د خپلو وروڼو، خویندو، ترونو، تروریانو، ماماګانو، خاله ګانو، او ټولو خپلوانو سره د مینې امر کوي، او د خپلې مېرمنې، ماشومانو او ګاونډیانو د حقونو د پوره کولو امر راته کوي.

او زما دین ماته د زده کړې امر کوي، او د هر هغه څه چې زما عقل، اخلاق او فکر لوړوي.

هغه ماته په عاجزۍ، حوصلې، سخاوت، زړورتیا، حکمت، ثبات، صبر، امانت، عاجزۍ، پاک لمنۍ، پاکۍ، وفادارۍ، خلکو ته خیر غوښتنې، دررزق ګټلو پسې هڅې، د مسکینانو سره مهربانۍ، د ناروغانو پوښتنې، ژمنې تر سره کولو، ښو خبرو، خلکو سره په ورین تندي مخ کېدلو او تر خپلې وسې د خلکو خوشحالولو باندې راته امر کوي.

له بلې خوا مې له ناپوهۍ، کفر، بې دینۍ، نافرمانۍ، فحاشۍ، زنا، فسق، تکبر، کینې، نفرت، بد ګمانۍ، بدپالۍ، خفګان، دروغ، نا أمیدۍ، بخل، تنبلۍ، بزدلۍ، بې همتۍ. غصې، جذبې، بې عقلۍ، خلکو ته بد رسول، زیاتې بې ګټې خبرې، د رازونو افشا کول،

خیانت، وعده خلافي، د مور او پلار نافرماني، له خپلوانو سره اړیکې پرې کول، اولادونو څخه بې غوري، ګاونډي او عامو خلکو ته ضرر رسولو څخه په کلکه سره منعه کوي او ویره راکوي.

همدارنګه اسلام مې د نشه يي توکو له څښلو، د نشه يي توکو له راکړې ورکړې، په پیسو قمار وهلو، غلا، خیانت، فریب، د خلکو وېرولو، جاسوسي او د هغوی د عیبونو له پلټنې څخه منع کوي.

زما دین اسلام د مال ساتنه کوي پدې کې د سولې او امنیت خپرول دي. له همدې امله یې په امانت ټینګار کړی، او امانتګر یې ستایلی، او د ښه ژوند او په آخرت کې یې جنت ته د ننوتلو وعده ورکړې، او غلا یې حرامه کړې، او غل ته یې په دنیا او آخرت کې د عذاب ګواښ کړی دی.

زما دین د روحونو ساتنه کوي، لدې امله یې له حق پرته د نفس وژل او په نورو هر ډول تیری حرام کړی که څه هم په لفظي توګه وي.

بلکې پر خپل ځان باندې یې تجاوز کول حرام کړی دی، او چا ته یې اجازه نده ورکړې چې خپل عقل فاسد کړي، او یا خپله روغتیا ویجاړه کړي او یا ځان ووژني.

او زما اسلام دین آزادۍ تضمینوي او ټینګوي یې. په اسلام کې انسان د فکر کولو، خرڅولو، پېرلو، سوداګرۍ او تګ راتګ ازادي لري، او همدا رنګه ازادي لري چې د ژوند له ښو څیزونو څخه خوند واخلي لکه: خوړل، څښل، اغوستل او اورېدل، تر دې چې د حرامو مرتکب جوړ نه شي چې بیا ده او یا نورو ته ضرر ولري.

او زما دین ازادي کنټرولوي. چاته اجازه نه ورکوي چې پر بل تجاوز وکړي او نه هم چاته اجازه ورکوي چې په ازادانه توګه له حرامو خوند واخلي کوم چې د ده مال، نیمکړتیا او انسانیت له منځه وړي.

او که تاسو هغو کسانو ته وګورئ چې په هر څه کې یې ځان ته ازادي ورکړې، او د ځان ټولې غوښتنې یې منلې پرته لدې چې کوم دیني اصل او یا عقل یې منع کړي، - تاسو به لیدلی وای چې دوی د بدبختۍ او کړاوونو په تر ټولو ټیټه کچه کې ژوند کوي، او له دوی څخه به ځیني تاسو لیدلی وای چې غوښتل به یې ځان وژنه وکړي؛ - دا ټول - له اضطراب څخه د خلاصون په هیله.

زما دین ماته د خوړلو، څښلو، ویده کېدو او خلکو ته د خطاب کولو تر ټولو غوره آداب را زده کوي.

او زما دین ماته په پیر او پلور او د حقوقو په غوښتلو کې د زغم درس راکوي. دا ماته د دین د سرغړونکو په وړاندې د زغم درس راکوي. زه پر هغوی ظلم نه کوم او نه هم دوی ته زیان رسوم، بلکې له دوی سره نیکي کوم او هیله لرم چې خیر ورته ورسوم. د مسلمانانو تاریخ ددې ګواهي ورکوي چې د سرغړوونکو په وړاندې د دوی زغم دومره – لوی – و چې له دوی څخه مخکې هیڅ قوم نه و پیژندلی. مسلمانانو د مختلفو دینونو د خلکو سره یوځای ژوند کړی دی او هغوی د مسلمانانو تر واکمنۍ لاندې راغلي دي. مسلمانانو – له هر چا سره – د انسانانو تر منځ تر ټولو ښه چلند کاوه. او په ټوله کې اسلام ماته غوره آداب، نیک تعامل، او هغه عالي اخلاق را زده کړل چې زما ژوند پرې سوتره کیږي او خوښۍ مې پرې بشپړیږي. او له هر هغه څه څخه یې منع کړی یم چې زما د ژوند روښنایي له منځه وړي او د ژوند ټولنیزې بنې، نفس، عقل، مال، عزت او ناموس ته زیان رسوي. او څومره چې زه دا زده کړې اخلم په همغومره اندازه مې نیکمرغي لوییږي. او زما د بې پروایۍ او کوتاهۍ په اندازه، زما خوښي همغومره کمیږي څومره چې ما له دې تعلیماتو څخه کم کړي دي.

او هغه څه چې تېر شول معنا يې دا نده چې زه معصوم يم نه خطا کيږم، او نه تيروتنه کوم، زما دين زما انساني فطرت او زما کمزوري په پام کې نيسي، نو له ما څخه خطا، نيمګړتياوې او غفلت را منځ ته کېږي. لدې امله يې راته د توبې، بخښنې غوښتلو او الله ته د ستنېدو دروازه پرانستې ده. توبه زما د نيمګړتياوو اغيزې له منځه وړي، او زما د رب سره زما موقف لوړوي.

او د اسلام د عقايدو، اخلاقو، آدابو او راکړې ورکړې ټولو تعليماتو سرچينه قرآن کريم او سپېڅلي نبوي سنت دي.

او په پای کې په کلکه وايم: که د نړۍ په هر ګوټ کې انسان د اسلام د دين واقعيت ته د عدالت او بې طرفۍ په سترګه وګوري، بله لار به ونه لري پرته لدې چې قبول يې کړي، خو مصيبت دا دی چې د اسلام مبارک دين دروغجنو تبليغاتو او يا هم اسلام ته د ځينو منسوبو کسانو د کړنو په واسطه بدناميږي، هغه کسان چې په خپله يې اسلام ندی عملي کړی.

او که څوک يې حقيقت ته وګوري لکه څرنګه چې دی، او يا د هغو مسلمانانو حالاتو ته وګوري چې ټينګ پرې ولاړ دي نو هيڅکله به يې په منلو او پکې په شامليدلو کې زړه نازړه نه شي. هغه ته به

څرګنده شي چې اسلام د انسانانو د خوښۍ، سولې، امنیت او د عدالت او نیکمرغۍ د ترویج غوښتنه کوي. اسلام د ځینو پیروانو د انحرافاتو په اړه، که هغه لږ وي یا ډیر- په هیڅ حالت کې دا جواز نلري چې په دین باندې حساب کړل شي، او یا یې له امله د دین عیب وویل شي، بلکه اسلام له هغوی څخه بې زاره دی. د انحراف پایلې بخپله انحراف کوونکو ته ورګرځي، ځکه اسلام دوی ته پدې سره امر ندی کړی؛ بلکې هغوی یې منع کړي او د انحراف له امله یې ورته ګوت څنډونه کړې ده، د هغه عمل له امله  دي چې دوی پرې راتک کړی، سربیره پردې، عدالت تقاضا کوي چې د هغو کسانو وضعیت ښه ولیدل شي چې په حقه سره په دین ودریدلي دي، امرونه او حکمونه یې پر ځان او نورو پر ځای کوي، نو یقینا چې دا د دین لپاره زړونه له عزت او وقار څخه ډکوي. نو اسلام د نصیحت او تهذیب هیڅ کومه کوچنۍ او لویه نده پریښې مګر دا چې ټینګار یې پرې کړی، او همدا رنګه هیڅ ناوړه او مفسد کار یې ندی پریښی مګر دا چې ورڅخه یې منع فرمایلې ده، او د هغې له لارې څخه یې خلک اړولي دي.

په دې توګه اسلامي چارو ته په درنه سترګه ليدونکي، او هغوي چې شعائر يې پر ځاى کوي تر ټولو نيکمرغه خلک دي، او د ځاني روزني په تر ټولو لوړه مرتبه کې دي، دوى په خو خويونو او لوړو اخلاقو سره ځان روزلی، دوى ته پدې باندې نږدې او لرې، موافق او مخالف ګواهي ورکوي.

او يوازې د هغه مسلمانانو افراطي حالت ته ليدل،چې د سمې لارې څخه يې پښه خويدلې ده هيڅکله انصاف ندی، بلکې دا په خپل ذات کې ظلم دی.

په پای کې دا هر هغه چا ته بلنه ده چې مسلمان نه دی، چې د اسلام په پيژندلو ټينګار وکړي او پکې داخل شي.

او څوک چې غواړي اسلام ته داخل شي بل هيڅ کار ته اړتيا نه لري پرته لدې چې د الله په يوالي او د محمد صلى الله عليه وسلم په پيغمبرۍ ګواهي ورکړي. او له دين څخه هغه څخه زده کړي چې له مخې هغه څه وکړی شي چې الله تعالى پرې فرض کړي دي. او هر څومره يې چې زده کړه او عمل زياتيږي، همغومره يې نيکمرغي زياتيږي، او د خپل رب په وړاندې يې مرتبه لوړيږي.

# تعرف على الإسلام

## بأكثر من 100 لغة

موسوعة القرآن الكريم
QuranEnc.com
موسوعة تراجم معاني وتفاسير القرآن الكريم

IslamHouse.com
مرجعية شاملة للتعريف بالإسلام بلغات العالم

موسوعة الأحاديث النبوية
HadeethEnc.com
موسوعة ترجمات الأحاديث النبوية وشروحها

بيان الإسلام
byenah.com
بوابة مبسطة للتعريف بالإسلام وتعلم أحكامه

موسوعة المحتوى الإسلامي
IslamEnc.com
منتقى المحتوى الإسلامي المترجم

ما لا يسع أطفال المسلمين جهله
kids.islamenc.com
منصة ما لا يسع أطفال المسلمين جهله

978-603-8412-37-4

Ps231